د شیخ بستان او ملا حسن فراقنامې

یا

د درد او سوز سره ورته شعرونه

د پښتو شعر په متوسطه دوره کې کله چې د تصوف چاشنی په ادب کې یو خاص سوی او ملاحت پیدا کی، ځینې داسې شعري او منظومې ټوټې لرو چې هغو ته له درده او سوزه ډك عاطفي تاوده او سرځوونکې اشعار ویلای سو.

د پښتنو مؤرخانو څخه لومړی پلا نعمت الله نورزی هروی د یوولسمې هجري سدۍ په لومړیو کلو کې مونږ ته د شیخ محمد بستان بړیڅ په نامه یو پښتون ستانه ولي الله شاعر راښوولی وو، چې تر ۱۰۱۸ ق دمخه د نعمت الله سره یو ځای او محشور سړی وو، دوی دواړه د جنوبي هند د "گوه" بندر په یوه سفر کې په یوه کښتۍ کې سره ملگري وو او دواړه د هند په سامانه ښار کې اوسېدل، او نعمت الله په خپل کتاب مخزن افغاني کې د ده احوال او خوارق بیانوي او وفات یې د گجرات په احمد آباد کې په جمعه ۷ ربیع الثاني ۱۰۰۲ ښیي[1].

دا چې شیخ بستان په عرفان کې کوم مقام لاره د نعمت الله له دغو صفاتو څخه ښکاري چې د ده لپاره یې په مخزن کې کښلي دي :

"عرفان پناه، سوخته نارالله، همای آشیان تفرید، عنقاء قاف تجرید در دریای وحدت[2]".

شیخ د نعمت الله په قول په ځوانۍ کې له روهه هندوستان ته ولاړ، او د سامانې د بړیڅانو په پرگنه کې اوسېدی، او ځان یې داسې ښکاره کاوه چې گواکې سوداگر دی، مگر ده په خورا لږ سرمایه په شرعي حلاله توگه معامله کوټې کوله، او څه چې یې گټل هغه به یې د بېنوایانو په مرسته لگول. دا چې نعمت الله د شیخ زهد او تقشف او تهجد ستایي، دا خو د هر عارف د تگلارې لومړنی څوری دی، مگر کله چې سالك د "قرب" درجې ته ورسیږي، دلته نو مینه او مین او معشوق گرده سره گډیږي، محبت او محبوب او محب سره یو سي، نه وصل وي نه بېلتون، نه قرب وي نه بعد، نه رد وی نه قبول. دې حال ته د تصوف په اصطلاح "مخالعه" وایي :-

معشوق و عشق و عاشق هر سه یکی است اینجا
چون وصل در نگنجد، هجـران چــــه کار دارد[3]

نو "قرب" یو داسې حال دی چې د سالك د وجود ټوله صفات د عین پیوستون او جمع په سیمه کې له ځانه غیبت مومي، او په پای کې قرب او استغراق او غیبت هم له منځه وزي، او په خپله قرب هم لکه بعد سالك په اوږده نول او سوي او ویلېدنگ کې ناقراره ساتي، ځکه نو ذوالنون ویلي وو:

"ان عذاب القرب، اشد من عذاب عاقبه البعد[4]".

د تصوف د دې دایمي نول او تاخون علت هم دا دی چې صوفي د قرب په حال کې د "زوال" له ناورینه بیریږي، نو ځکه ناتوانه او د سوز و ساز په حال کې وي، نارې غلبلې وهي، ویلیږي، سوځل کیږي، ښه یې الوتې وي، کالبوت یې نونځه وي، خو د بېلتانه او بعد حال داسې نه دی، دلته د آینده وصال په هیله سالك ژوندی وي، حضرت جامي وایي :

محنت قرب ز بعد افـزونست
جگر از هیبت قربم خــونست
هست در قرب همه بیــم زوال
نیست در بعد جز امید وصال
آتش بیم دل و جان ســــــوزد
شمع امـید روان افـــروزد (۵)

دا چي ځيني رسېدلي او د برخي خاوندان صوفيان او عارفان تل د قرب حال هم لکه فراق او بېلتون تريخ ګڼي او ژاړي، علت يې هم دغه د بيري او خوف او هيبت حال دی، چي د زوال له ناورينه يې بيرېږي او وايي :

اوښکي مي ځاځي پرګرېوان يو وار نظرکه پر ما
راسه ګذرکه پر ما

د شېخ بستان کتاب بستان الاولياء چي د پټي خزانې د مؤلف پلار په ښوراوك کي ليدلی وو، او په ۹۹۸ ق تاليف سوی دی[٦]. اوس ورك دی او مور ته د بستان د ژوندانه حال پوره نه دی معلوم. خو د ده مخلص مريد، نعمت الله چي څه کښلي دي له دې څخه د ده د قرب او مخالعې د سوز وګداز حالت ښه ښکاري، دی وايي :

"صاحب درد و شوق بود، چشمان شریفش هرگز از اشك خشك نبود و چندان درد داشت که گویا الم و محنت تمام عالم را بر دل او تسلیم کرده اند و هر ساعت اههای دردناك از جگر خون آلوده بر آوردی و بعضی اشعار پښتو را بصوت حزین که سنگ را بگریه آوردی میخواند و اشك از چشمش میریخت ... [۷]". په شرقي اسلامي ادب کي د ټولو ژبو پر خدای مین عارفان کله چي شعر وايي دغه سوز و ساز او د قرب د حالت ناورين او تاخون پکښي ليدل کيږي :

هر روز غم عشقت، بر ما خطر انگـیزد
صد واقعه پیش آرد، صد فتنه بر انگیزد

(عطار)

شېخ تيمن کاکړ د پښتو يو قديم شاعر، دغه د قرب حالت چي په ببره او وير ډك دی کټ مټ داسي تصوي کوي :

زړه مي لــه دې وېرني شيـــن دی
په ژړا ژاړم څه نـــــــاورين دی؟
زرغون له اوښو مي ســـــادين دی
په نول نولېږم چي تاخـــون راغی (۸)

دا چي شېخ بستان به تل د عشق په سوي اوکړاوکي اوښکي تويولې يا به يې په پښتو د ارمانه ډك اشعار په ويرجن ږغ ويل، هغه حال دی چي سنايي يې هم :-

از سوز جگر چشمی، چون حقهٔ گـــوهرها
وز آتش دل آهی، چـون رشتهٔ مرجانها (۹)

ګڼي او شېخ بستان يې داسي تصوير راکاږي :-

د میني اور دي زما زړګی وريت په انګار کينا
ښې تار و نار کينا

خود به ویلیږم چي مي زړه پر تا مفتون کینا
ځان مي زبون کینا

د سوز و ساز عشق وګداز حال چي نعمت الله په خپل فارسي نثر کي بیان کړی دی، د شېخ بستان په بدله کي داسي سره را انځور کیږي :-

له زړه مي ځاځي ویني سور په وینو خپل یمه تل
په اور جلبل یمه تل
له درده سوزه تل نارې او غلبلې وهمه
کړوي سورې وهمه

په دې حال اکثر عارفان اخته وي سنایي په دې ژبه ورته ښه راغلی وایي :-

چه خوش بود آن روزی کز سوز دل از شوقت
در راه تو میـــــــــکاریم، از دیده گلستانها

د میني اوکړاو د دغه ناورین حال چي عارف یې په نارو او غلبلو کښېیستلی وي، پای یې دا دی چي شاعر د رحمت سیمي ته پناه وړي چي د بیدل په قول "از چمن تا انجمن جوش بهار رحمتست" او حضرت سنایي هم د خپل سوز وګداز پای د "رحمت" دغه لوړ بارګاه ته روسوي چي:-

ای کرده دوا بخشی، لـــطف تو بهر دردی
من درد تو میخواهم، دور از همه درمانها
لطف تو همی باید، چه فایده ازگـــــریه؟
فضل تو همي باید، چه سود زفغانــــــها

وګورئ ! شېخ بستان هم د خپل آه او سوز د غلبلو په پای کي د رحمت دغه ساحت اعلی ته متوجه کیږي او خپله بدله داسي پای ته رسوي چي :-

د خوږو زړو له حاله ته یې ای باداره اګاه
یې د بې وزلو همراه
د خپل عزت په روی بستان ته کړه د مهر ښندل
کړې له ګناهه ګوانښل
اوښکي مي ځاځي پرګرېوان یو وار نظرکه پر ما
راسه ګذرکه پر ما

(پټه خزانه ۲۹)

په پښتو پخواني ادب کي خو د شېخ بستان د دې بدلي په څېر فراقي په ویر لړلي اشعار ډېر دي ځکه چي د شرقي ادب او عرفان اغیزي زموږ په فرهنګ کي خورا ډېري دي، نوکه به څوك د عرفان په کوڅه کي تېر سوی هم نه وو، د عارفانو پېښې به یې کولې، او د شرقي ژبو ادب په داسي فراقنامو ډك دی.

دکندهار د تلوکان ملا حسن !

دا سړی چي یو دردمن عارف او د طریقت اوسلوك مرشد وو، د شېخ بستان تر زمانې دوې سدۍ را وروسته دکندهار غربي خوا د تلوکان په کلي کي اوسېدی، په جذب او شوق او زهد او وجد یې شهرت موندلی وو، او د پوټي میا نورمحمد داوی اخوند صاحب مرید وو، په پښتو او پارسي یې د سوزه ډك اغېزه ناك شعرونه ویل.

څلوېښت کاله پخوا ما د پښتانه شعراء په دوهم ټوک کي داسي کښلي وو :

"د ده اشعار په حقيقت کي د عشق په اور کي د سوي زړګي هغه وريتي کترې دي چي د الفاظو په صورت کي يې د کاغذ پر مخ ځای نيولی او د ديوان په ډول جوړي سوي دي ... او سړی داسي ګڼي چي ده خپل خوږمن زړه د خپلو اشعارو په الفاظو کي نغښتلی دی ... (۱۰)".

له ده څخه د سوزه ډکي څلوريځي را نقل سوي دي، کله چي د فراق بيابانو ته مخ نيسي او د شعور له خنده وزي نو سر د زړه په خونه دننه کوي او وايي :-

زړګيه ! مه ځه پر بيابانونه
سر که دننه د زړه په خــونه
د روغو زړونو ژړا محال ده
په ژړا ژاړي ويشتلي زړونه

ملا حسن يوه پښتو فراقنامه هم لري، چي اوږده قصيده ده، او يوه ناقصه نسخه يې ما د کندهار د يوې خطي نسخې په پای کي ليدلې او رانقل کړې وه.

په دې قصيده کي هم لکه د شيخ بستان بړيڅ بدله، سوز و ساز او مينه وګداز په ساده ژبه او مؤثره لهجه بيان سوي دي او د پښتو د دغسي فراقنامو د سلسلې يوه وروستنۍ کړۍ ده، چي په خوږمن احساس او رقت کي د شيخ بستان بدلي ته ورته ده، او زه د دغي قصيدې لاس ته راغلي بيتونه له خطي منبع څخه رانقلوم :

پښتو فراق نامه

دوسته ! ستا حديث تيره د جهاګ (۱۱) سر دی
دا زخمي زړګی زما پر برابر دی
ښايسته جمال دي غر د والضحی دی
د زلفينو بوی دي څرنګ معطر دی
چي پر زړه يې ستا د ميني اور بليږي
له هغو څخه دوږخ کړی حذر دی ... (۱۲)
دا زما خاطر د غم سپرو تاراج کړ
ستا د وصل و قاصد ته مي نظر دی
که ملهم مي د زړه وکړې نازنينه !
د هجران په اور مي سوی د زړه سر دی
د يوه روخه رقيب راته وييږي
نوس له بله روخه مست لکه بد خر دی
جدايي راته د غم ګرېال وهينه
بل فراق راته ولاړ په لاس خنجر دی
نه مي لار د تښتېدو سته نه د صبر
خلاص راباندي د قضا د کلا در دی

نه مي يار نه مي آشنا سته په دا دهر
جدايي مي سوه مادر، هجران پدر دی
بل به زما په رنګ څوك نه وي په دنيا كي
چي خوراك يي همېشه خون ځګر دی
نه د ځان په رنګ حيران پر جهان وينم
نه مي حال د چا له حاله برابر دی
ويني، غوښي مي خوراك اوبه مي اوښكي
د زړه نخل مي روزه دا يې ثمر دی
د فلك تر آسيا سرګردان زه يم
چي دا هومره غم يوازي را پر سر دی
خلكه مي و ظاهر صورت ته ګوري
د باطن په حال مي كم سړی خبر دی؟
وي به څوك چي زما وصال وته هوس كه ؟
چي مي ويني وايي دا هم يو بشر دی؟
كه په درد و په اندوه زما خبر سي
هغه زما له آشنايۍ لاس پر سر دی
نور به نوم زما وا نه خلي كه سړی وو
كه يې لاس له ما وانه خيست نو ابتر دی
د غم اوښكي مي پر مخ ولې ولې ځي
په خراب زړګي مي يو مولا خبر دی
هيڅ شفا مي د طبيب په دارو نه سي
د طبيب په دارو زيات زما ضرر دی
ای فلكه ! خپله خوا دي را سړه كړه
دا په ما وو؟ كه دي هر چيري هنر دی؟
جدايي راته د غم ګـــــــــړيال وهينه
بل فراق راته ولاړ په لاس خنـــجر دی
نه مي لار د تېښتېدو سته نه د صـــبر
خلاص راباندي د قضا دكلا در دی

يادونه :

ملا حسن په خټه ساګزی وو، د عمر پر اته شپېتم كال په سنه ۱۲٤٥ ق وفات سوی او د كندهار په تلوكان كي ښخ دی خلك يې تر اوسه زيارت ته ورځي.

د شېخ بستان او حسن تر منځ دوې سدۍ فاصله ده، خو د قرب په حال كي ژړا او ناقراري يوګډ صفت دی، چي هم په هغه بدله او هم په دې قصيده كي سره را نغښتي دي او دا هغه يوه ښېګڼه ده چي پښتو ادب د شرقي ژبو له ادبياتو سره نښلوي[۱۳].

لمن ليکونه

۱. نعمت الله : مخزن افغاني ۲، ۷۴۳. په یوه خطي نسخه کي دغه ورځ د ربيع الثاني ۱۱ مه ده.
۲. مخزن هغه مخ.
۳. محمود کاشاني : مصباح _ الهدايه ٤١٧.
٤. مصباح ٤١٩.
٥. تحفه الاحرار.
٦. د پټي خزانې په خطي نسخه (ص ۲۸) کي ۹۹۸ ق د بستان الاولياء د تاليف کال دی او وايي چي په دغه کال شېخ وطن ته راغی، تر دې دمخه په ۲٦ مخ کي وايي : چي دغه کتاب په ۹٥٦ هجري کښلی سوی وو. ځکه چي د ده د وفات کال ۱۰۰۲ ق دی، نو معلومه ده چي تر ۹۹۸ ق وروسته به دی بيا هند ته تللی وي. د پټي خزانې هندسي سنې کله د کاتب له خوا غلطي کښلي سوي دي چي دلته بيا هم د ۲٦ مخ سنه ۹٥٦ ق د کاتب تحريف دی، ښايي د کتاب شروع په ۹۹٦ ق او ختم يې په ۹۹۸ ق کي وو، او په دې مخ کي به کاتب سهواً يو (۹) په (٥) اړولی وي.
۷. نعمت الله : مخزن ۲، ٧٤٤.
۸. محمد هوتك : پټه خزانه ۲۷.
۹. د سنايي کليات ۱۷.
۱۰. پښتانه شعراء ۲ _ ۳۹۸.
۱۱. جهاګ : يو جګ بوټی لکه تېره نل.
۱۲. دلته درې بيته پرې سوي دي.
۱۳. شېخ بستان بړېڅ _ د مقالو ټولګه _ ۱۳٦۰، لومړی مخ.